**لیکوڼکی : جیرود . ای. لابر ( Jerrod .A. laber)**
**منبع او خپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوز «2019-03-30» .**
**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»**

---

# آمریکایی سرتیري په سوریه،عراق اوافغانستان کی زمونږ دآزادی لپاره نه مری دوی دهیڅ شي لپاره مړه کیږی

# *American soldiers aren't dying for our freedom in Syria, Iraq and Afghanistan. They're dying for nothing*

## هیڅ یوه مور نه غواړی داسی فکر وکړی چی دهغي ځوی بی ځا یه خپل ژوند دلاسه ورکړی ، مګر لکه چي په افغانستان کی دوه امریکایان په دي هفته کی وژل کیږیُ مونږ با ید دحقیقت سره مخامخ شو

***No mother wants to think that her child died in vain. But, as two more Americans die in Afghanistan this week, we need to face the truth***

*جمهور ریس **دونا لد ترامپ** دخپل انتخا با تی مبا رزی په دوران اوهم تردغه موجوده مها ل پوری خلکوته وعده سپا رلی وه چي هغه دامریکی دغه روانی جګړی ته دپا ی ټکي ایږدی ، اما دهغه ددی بیان سره سره بیاهم دغه بیرحمانه اوبیهوده جنګونه په تا سف سره چی لا تراوسه دامریکي په ستاندارد سره دوام لری.*

*دوه نور امریکایان په دی دوو وروستیو هفتو په افغانستان کی ووژل شول ،*

یعنی په هغه جګړه کی چی د دونالد ترامپ اداره دی ته یی پام اړول شوی چي ددغه جګړی پای ته پوره ضرورت لیدل کیږي ، اما اوس داسي په نظر راځی



چی ددی جګړی ختمید و ته عجله او لیوانتیا نه ترسترګو کیږي چی باید داجګړه ختمه شي .
دونالد ترامپ د دسمبر میاشت کال ( 2018) کی اعلام وکړ چي هغه د امریکی ټول نظامی قوتونه له سوریی څخه باسي ، اما هغه یو څو مودی وروسته په یوه بله اعلامیه کی دا سی په ډاګه کړ چی دهغه اداره غواړی چي په سوریه کی دیو نامعلومی مودی لپاره دامریکی یوه وړه ځواک چی دهغه دسرتیرو شمیر له (400) څخه تر ( 1000 ) پوروی وی وسا تي اودا شمیر امریکایی سپاهیان سربیره پر هغه (5000) امریکایی سرتیری دی چی دایران ددولت داداری واسواس لپاره په عراق کی ساتلی یا ځای پرځای کړي دي .
د یا دونی وړ مطلب دادی اوهغه داچې هغو سرتیری چي اوس دافغانستان په نامعلومه جګړه کی ښکیل دی ، دوی دافغانستان د جګړي په پیل کی کوچینیا ن وه کوم چی اوس دلته په ا فغا نستا ن کی خپل ژوند دلاسه ورکوي نو اوس دستی ددی ضرورت لیدل کیږی چی مونږ باید خپل ټول سرتیری او نظا می پرسونل له ا فغا نستا ن ، سوریه اوعراق څخه بیرته کور ته راستا نه کړو.
ځما تره (کا کا) په ویتنا م کی وجنګید ، وروسته کله چی هغه ویتنا م ته د جګړی یا د جنګید و لپا ره وګما رل شو ، نوهغه یعنی ځما تره ځما له نیا (لوی ادی) څخه وغوښت چی ته باید ځما د ډاډ ګیرنی د پا ره وروسته له ما د کورنی ټول چا ری تر سره کړی ، له دی نه چي ځما پلار ځما له تره څخه څو کلونه ځوان وه او ددی ایجاب کول چی هغه یعنی ځما پلار تر پوره مواظبت او څارنی لاندی نیول شوی وایی چه هغه سهیلی آسیا ته دکار او دجګړی دپاره ونه لیږل شي نو ددی کار دمخنیوی دپاره آسانه لاره داوه چی ځما پلار باید د

وهایو په ولایت کې د آپولوچیا (Appalachia) په کالج کې ځا ن دزده کړې د پا ره راجستر کړی ، اما له بده مرغه د 1970 ) لسیزو کې دهر چا دپاره شرایط نه وه برابرچې په نوموړي کالج کې خپل نوم ثبت کړی .

نو له نیکه مرغه دویتنام جګړه مخکې له دی چې ځما د پلار دلیږلو دپاره د نوم لیکنې شرایط چمتوشي ختمه شو اوداسې یوه چا نس تر لاسه شو چې ځما پلار لکه دنورو په شان چې دهغه پله څخه تیریدل تیر نشي یعنې ویتنا م ته دجګړې دپا ره ونه لیږل شي. زه داده نه یم اویا لا تراوسه مې په یاد کې نه دی پاتې چې ځما دتره څه فکر وه اویا پرڅه شي باندی فکرکول کوم چې هغه ما سره دټلیفون په کرښه کې تماس ونیول یعنې چې هغه څه مهال وه ، په هرصورت ځما تره د(۹۰) لسیزو په زما ن کې مړ شو اوما بیا هغه هیڅ ترلاسه نکړ چې دهغې څخه دهغه د ا ندیشنو په اړه مې پوښتنه کړای وای اما هغه یوه فرضیه چې ځما سره په ذهن کې ګرځیده هغه دا وه چې ځما تره بلکل په دی باور وه چې امریکا یې جګړه مار حلقې هر څه چې دامریکې څخه د باندی تر سره کوی بلکل غلط او ا شتباه دی او هغه داچې امریکا غوښتل چې ځما تره هم خپل ورور یعنې ځما پلا ر د جګړې دپا ره ویتنا م ته ولیږي یعنې خپل ورور دمرګ پولې ته ولیږي .

مونږ داسې ګڼو یا داسې فرض کوو ، چې امریکایي سرتیری زمونږ دسا تنې ، آزادی اودحقونو دترلاسه کولو لپاره خپل ژوند دلاسه ورکوی اوهغه داچې هغوی مونږ له هغه زورزیاتې اوتهدید څخه ساتي کوم چې مونږ دهغه دول تهد یداتو سره مخا مخ یا ستو ، نو دهمدی دلیل له مخې مونږ هم دخپل جانبازانو ، سرښیدونکو څخه قدردانې کوو اوهغوی چې په دی لاره کې خپل ژوند دلاسه ورکوی مونږ هغو ته شهیدان وایو ، اما له بده مرغه چې مونږ اصلي دلایلو ته پام نه اړوو چې هغوی د څه د پا ره خپل ژوند دلاسه ورکوی ؟ پس له هرڅه نه وروسته دی پایلو ته رسیږو چې هیڅ یومهربان مور نه غواړي فکر وکړی اویا په دی اندیښنه ښکاره کړي چې دهغه ځوی دهیڅ شي لپاره خپل ژوند دلاسه ورکړی ، اما اوس په سوریه ،عراق او افغانستان کې دا حقیقت په بشپړ بڼې سره ترسترګو کیږی چې امریکا یې سرتیری دهیڅ شي دترلاسه کولو لپاره خپل ژوند دلاسه ورکوي .

تا سې کولای شی چې سوریه په نظر کې ونیسی کوم چې هلته دامریکې یوه وړه نظا مې ځواک ځای پرځا ی دي او هد ف دادی چې دایران د زیا ت نفوذ څخه په سوریه کې اوهمدارنګه د (داعش) دنفوذ په وړاندی دخلافت دنسکوریدو وروسته مخنیوی وکړی آیا تا سې کولای شي دا سې تصور وکړي چې د سوریې دداخلي جګړې وروستې ناخوالي او عواقب له مینځه ویسې اوهغه هم په سوریه کې د (400) سرتیروپه شتون اویا مستقر کیدوسره ؟ پس ویلې شو چې هغه غرور اوتکبر اویا هغه ځا نګړ تیا یواځې د امریکې په

*خارجی سیا ست کی لید ل کیږی چی هیڅ یو منطقی اړخ نه لری یعنی یو دا سی نا کا م سیا ست کوم چی دامریکی له خوا پکا ر وړل کیږي . داخبره په واقعی مفهوم سره رینتیا دی داچي امریکي دخپل ناکام سیا ست په لرلو سره خپل سرتیری په بی ګټی جګړو کی دلاسه ورکوی لکه څنګه چی د جنوری په میا شت کی څلور امریکایی سرتیری په سوریه کی خپل ژوند دلاسه ورکړل . اودهغه نور سرتیری کوم چی هلته په سوریه کی پا تی دی نودهغو د ژوند ارزش به څومره وی چی نا شونی هد ف تر لاسه کړل شی ؟ اوس سمد ستی دعراق دپولو په اوږدوکی (5000) امریکایی سرتیری ځای پرځای شو ی دی چی دهمدی دلیل له مخی په سوریه کی هغه وړه امریکا یی ځواک با قی پاتی کړ شوی دی چی دهغو سره یوځای د داعش سره په جګړه کی دعراق سره مرستی تر سره کړي حال داچی دا ټول امریکا یي سرتیری څه چي په عراق اویا سوریه کی دی ټول دایران د نفوذ دمخنیوی یا د ترصد په خاطرځا ی پرځای شوی دي ، چی داپخپله یوعاقلانه ساسی حرکت نه دي اوهغه داچی (داعش) دامریکا یی سیا سی حلقا تو په وینا سره بلکل له مینځه تللی دي ( سره له هغه چی تروریزم په بشپړه توګه سره له مینځه نه دی تللی او واقیعت دادی چی د تروریزم له مینځه وړل ډیرستونزمن ښکاری ) ،اوپه عین زمان د نړی په یو ډ یر حسا س او خطرناک سیمه کی په زرګونو سرتیری ځای پر ځای کول خپله یوه ډ یر جدی سوال دی کوم چی جمهور ریس* ***دونا لد ترامپ*** *غواړی ایرا ن تر خپل څا رنی یا تر نظا رت لاندی ونیسی .*

*د* ***دونالد ترامپ*** *اداره تل پا تی راغلی دي چي را ویښی یا څرګند کړی چی ایران دخپل ګاونډیو هیوادونو د با مفهوم انرژی پروژو د لګښتونو د تمویلولو لپا ره کم بغل اویا کمزوری دی اوداتومی انرژی بین المللی سازمان وایی چی ایرانیان لا تر اوسه د (2015) هستوی تړون په تعقیب کی چی دا بارک (اوباما) داداری له خوا ّه هغه وخت کی ترسره شوی وه چی دایران داتومی وړتیا محدود شی همغه پریکړی ته وفادار پاتی شوی دي. سره دهغی چي امریکا له نوموړی تړون څخه پښی سپکی کړ اووتل ، او دا روښا نه نه دی هسی چی جمهور ریس فکر کوی چي هرڅه دهغه په خوښه تر سره شي ، یعنی چی وضع چندان دامریکی په ګټه نه دی اوداخکه چي د امریکی دتلفاتو داداری (Casualties.com) دراپور له مخی په کال (2018) په عراق کی (17) امریکا یا ن ووژل شو .*

*په افغانستان کی سره دډیرو قربانیانو بیاهم دامریکی متحده ایالات ډیر کم کار کړي دي طا لبا ن د ملاحظی وړ سیمی تر خپل ولکي لاندی راوستی دی ، حا ل داچي دا فغا نستا ن دولت سره دهغی چي دامریکی تر حما یت لاندی دی ، ډیر کمزوري ، اوفاسد دولت دی کوم چي په ا فغا نستا ن کي د ملکی خلکو د تلفا تو کچه په کا ل (2018) کی ډیرلوړ تر سترګو کیږی .*

دبلی خوا څخه دامریکی جنګی حلقی په دی با ور دی چي په ا فغا نستا ن کي تر هغه وخته پوری غواړی پاتی شی چی بیا په تکرار سره د سپتمبر د میا شتی یولسمه پیښه ترسترګو نشی . مګر دنړی په سرتاسر کي دمتحده ایالاتو دا بریدونه او حملی اودهغه مهند سی کوم چی د (سی آی اي) په استاذیتوب تر سره شوی اویا لاتراوسه تر سره کیږی یوه ښکاره ناکام سیاست نه دي ؟؟؟ په شمول ددی چی دلته په اصطلاح تر څراغ لاندی دامریکي په ښونځیو کی بربنډی تروریستی حملی تر سره کیږی چی داخپله دامریکی دغلط سیاست ښکارندوی دی د **پا تریک پورتر** (Patrick Porter) دبین المللی کارپوه له نظره چی وایي « دلته هیڅ یو مستقیم کرښه له هلمند ه تر منها ټن پوری وجود نه لری چی تر سترګو نشی » د تروریزم سره مبا رزه کول اشغا ل ته ضرورت نه لید ل کیږی.

------------------------------------ **په درناوی** «2019-04-02»